
دژوند پانې

دويمه شعري ټولگه

عزت الله شمسزي

Download from:aghalibrary.cm

Download from:aghalibrary.cm



د کتاب ځانګړتیا

د کتاب نوم:	د ژوند پانې
شاعر:	عزت الله شمسزی
خپروندوی:	د لغمان فرهنګي ټولنه
د خپرونو لړ:	۹
چاپشمېر:	(۱۰۰۰) ټوکه
کمپوز:	خپله شاعر
د پښتی ډیزاین:	حشمت الله ناصری
چاپ کال:	۱۳۸۶ل – ۲۰۰۷م

Download from:aghalibrary.cm



خوږو ملګرو ته مې چې تل
يې مينه راکړې

Download from:aghalibrary.cm

اغزو ته‌موسکا

لاس مې پورته کړی یوه نوې دعا غواړمه
نن به زه له خدایه خیر د ټولې دنیا غواړمه

ژوندە ما له تانه کله لویه تمه کړې ده
زه خو دې دنیا کې بس یوه خوله خندا غواړمه

ډېرو فقیرانو، زیارتونو باندې گرځمه
خدای نه چې څه غواړمه اول په کې تا غواړمه

Download from:aghalibrary.cm

شړق وهه بارانه چې غوټۍ له تندې مړې نه شي
زه مې په ځان نه یم دې اغزو ته موسکا غواړمه

مورِ خو دې تورتمه له دې ژونده پښیمانه کړو
لار ورکړه سپېدو ته سبانو ته سبا غواړمه

ته راغلې یو نور راغی تیارې مې له زړه ووتې
دغه یوه شپه درنه تر ډېره رڼا غواړمه

زړونه، ارمانونه

دلته زمونږ په ارمانونو باندې څه ونه شول
ته څه خبر يې زمونږ زړونو باندې څه ونه شول

په دې وطن کې په ستم پسې ستم روان دی
ددغو خلکو په سرونو باندې څه ونه شول

دلته څه خلک دي جنت د ژوند په بيه پلوري
په دې دنيا کې جنتونو باندې څه ونه شول

ستوري به څنګه تر سحره پورې ورسېږي
بېګا د ستورو امېلونو باندې څه ونه شول

زمونږه لويې لويې دښتې خود له تندې نه مري
زمونږ څپو څپو سيندونو باندې څه ونه شول

وحشت يې لا په پرهرونو باندې لوبې کوي
ددې ولس په غيرتونو باندې څه ونه شول

بادونه

بې کوره شنو بادونو چېرته بلې خواته لاړشئ
زمونږ له زخمي غرونو چېرته بلې خواته لاړ شئ

بس ستړي يو ډېر ستړي، نوره مينه غواړو مينه
پردیو ارمانونو چېرته بلې خوا ته لاړ شئ

اورونو مونږ په لپه کې اوبه ورکړې چې شنه شي
زمونږه له باغونو چېرته بلې خوا ته لاړ شئ

مات شوي ګلدانونه اوس ګلان کړو نغري کې
سپرلیو او ګلونو چېرته بلې خوا ته لاړ شئ

لاسونه د سپېدو مو ګرېوانو ته در لنډېږي
بدبختو تورتمونو چېرته بلې خوا ته لاړ شئ.

لنډی قیامت

کلي کې کوکنار سپړي ګلونه ته به چېرته یې
ناڅې له مستۍ نه چنارونه ته به چېرته یې

اور شوه هغه تنده چې په زړه کې مې ساتلې وه
غېږکې مې رانغاړي ارمانونه ته به چېرته یې

ناست یمه وړو وړو هندارو ته د اوښکو مې
ورک وي رانه ټوله شپه خوبونه ته به چېرته یې

راشه چې له زړه هره پرده پورته کومه زه
وایم لاروي باد ته حالونه ته به چېرته یې

اوس هم هره ورځ کلي کې جوړ وي یو لنډی قیامت
شاوخوا د سترګو وي جنګونه ته به چېرته یې

ژړې مازیګری دی ددیدن دعا مې وکړله
لپه مې شمسزیه کړل لاسونه ته به چېرته یې

دپښغلو سترګو سلامونه

سحر هغسې نه وي، مازیګر هغسې نه وي
اوس زړه مې بند په څنګو کې د لمر هغسې نه وي

یو خوب و پو پناه شو چې په خوب کې مې لیدلې
اوس ډېر خوبونه وینم خو منظر هغسې نه وي

چې کله هم باران وشي دغرونو غاړې ګورم
سپرلی وي او ګلونه خو یو غر هغسې نه وي

اوس ما ځوروي نه، د پېغلو سترګو سلامونه
دا زړه مې خدایزده مات شو که نظر هغسې نه وي

نن سترګې غړولی شو تیارو کې ستوري وینو
تر عمره به زمورږه مقدر هغسې نه وي

یو درد مې و په زړه کې چې غزل زما غزل و
اوس هم شعرونه لیکم خو اکثر هغسې نه وي

کمزوری

نیمه شپه یو څوک وځي له بناره خو هېڅ نه وایي
ونیسي له ستورو سره لاره خو هېڅ نه وایي

دلته یو مین دی هسې نورې فلسفې وایي
ټوله شاعري یې ستا لپاره خو هېڅ نه وایي

ګل چې مجبوری نه د اغزو غېږه کې وخاندي
داسې پښتنې هم شي ناچاره خو هېڅ نه وایي

سوځي پښتنه لکه ډیوه تاوه راتاوه شي
غلې د جانان له خړ مزاره خو هېڅ نه وایي

څه وکړي کمزوری دی له ژوند سره جنګ نه کېږي
ستړی دی شمسزی له خپل روزګاره خو هېڅ نه وایي

یوه سپوږمۍ

ګټه د هر چا زما زیان خوښیږي
دژوند لپاره مې ارمان خوښیږي

خانده چې اوښکې دې له سترګو راشي
لمرینه ورځ کې مې باران خوښیږي

یوه سپوږمۍ په کې ملګرې لرم
ځمکې تر تا مې ډېر اسمان خوښیږي

دماشومانو روان ستوري خوښ وي
خو زما خوځنده انسان خوښیږي

شمسزیه ښکلي مینه څه پېژني
ددوی دسرو زرو بوتان خوښیږي.

د ستورو ګاونډی

خدایه دا څه وشول نه مړ او نه ژوندی شومه زه
هسې پر ځمکه بار بې لاسو پښو نیالګی شومه زه

مورِ څو یاران همدې یوه خاوره کې وغوړېدو
خو څوک نرګس شول څوک ګلاب، منځ کی اغزی شومه زه

اوس رانه څه پوښتې چې څنګه مې زړه تاته درکړ
زه هم پوهېږم نه چې څنګه لېونی شومه زه

زمانې ووایه معیار د ښه او بد څنګه دی
په څه دې خپل شوم او په څه درنه پردی شومه زه

پرون په خیال کې دسکروټو پر غره وختمه
ښکاري ستا مینه کې د ستورو ګاونډی شومه زه.

څپې څپې خبرې

د ژوند د ورکې فلسفې غوندې خوږې خبرې
وکړې جانان په لنډه ساه وړې وړې خبرې

نن یې پر شونډو باندې وېره دغماز خوره وه
پټې یې وکړلې د سترګو اینې خبرې

زما پر زړه دې رپ د سترګو دومره دروند پریوځي
لکه چې کلي کې مشران کوي پخې خبرې

دلمر له وړانګو نه شرمېږي چې رسوا یې نه کړي
سپوږمۍ او ستوري کړي یو بل سره د شپې خبرې

شمسزیه داسې چې له تورو نه نغمې جوړوې
دکلي سیند درته راوړي څپې څپې خبرې

ورکې سندرې

دا څه موده مې ورکې وې سندرې ستا په څېر
خپه وې ګرځېدې به رانه لرې ستا په څېر

ما زړه پرېښود د ګونګې کلیوالې په پلو کې
که نه ښار کې وې ډېرې ژبورې ستا په څېر

یو څو ورځې دقافــله ښاپېریو سره هم وم
والله چې دومره نه وې جادوګرې ستا په څېر

دچا دمينې زور دشنې ګنبدې ملنګان کړل
اوسېږي په زيارت کې شنې کوترې ستا په څېر

شاعره! خيال زما هم تل ــ له عرشه راتاوېږي
خو نه لرمه ذهن کې خبرې ستا په څېر

شمسزيه دومره ډېر نه دي يو څو کسه په شمار دي
چې اوسي ــ له منطق او عقله لرې ستا په څېر.

لمر پر لاره

نن ګهيځ بيا د لمر د تلو پر لاره
يوه غوټۍ د ګلاب وغوړېده،
او د تنکيو اننګيو،
په وړمو يې،
فضا ښکلې
کړله،
خو، خدايزده،
لمر ته و نن چا د کبر جام ورکړی؟
چې له غروره يې،
ولاړو سلامي ګلو ته ونه کتل
او له غصې نه يې دمخ له کاسې،
ګرمې لمبې،
وشيندلې،

لمر ،
نن دګلو، ارزښت، ونه پېژاند ،
لمر،
ديوې ورځې په ژوند
او په ښايست، وغولېد .
خو چې مابنام شو ، دختيځ له لوري،
دتورې شپې، ګزمې را وختلې.
لمر بيا دکبر جام، پر سر واړاوه
او ، د تنکيو ، ګلغوټيو ، په څېر
دخپل غرور،
پر بستر،
پرېوتلو.

د زړه لمبې

چې زه يې وسوم ستا دې هره ادا اور واخلي
ستا دې څپه څپه ځواني او ښکلا اور واخلي

د زړه لمبو نه زه هېڅا ته شکايت نه کوم
زه سوی ښه يم هسې نه چې دنيا اور واخلي

له اغزو پرته دګلونو څانګې بدې ښکاري
بې ــله غمونو دې دژوند هره سا اور واخلي

لکه پتنګ اور په وزرونو کې اسمان ته وړمه
هڅه مې داده چې دا توره فضا اور واخلي

ته چې يو ګام هم دنږدې راتللو زيار نه کاږې
دخدای په امان ستا دې ـله لرې موسکا اور واخلي.

ښېرا

څه چاره په کار ده یاره دلته بیا لېونی کېږم
جانان سم راسره نه ځي په والله لېونی کېږم

په ډېر صبر صبر یاره زما زړه لمبه لمبه شو
اوس مې عقل لوګی کېږي خامخا لېونی کېږم

ما مې وینه نذرانه کړه چې سپرلی په دې ښار راشي
چا لاسونه لپه کړي، کړي ښېرا لېونی کېږم

دې مړ ژواندي شان مالت کې ټول غمونه را په شا شول
ته دتورو غرو مارغه شوې، زه تنها لېونی کېږم

ښکلي سم لکه هنداري هر سړی په کې ځا ن ويني
د ازل وېش کړمه پاتې، بينوا لېونی کېږم

که لوېدم غېږ کې مې نيسه نن مې بخت سره جګړه ده
په اغزو کې مې مزل دی کړه دعا لېونی کېږم

گیلې

سپوږمۍ د ورځې لاس ته راشي رانه ښېرته تښتي
لپه مې ډکه ـلـه ښکلا شي رانه ښېرته تښتي

جانانه اوس چې توره شپه کې کله لار ورکوم
سترګې دې یادې کړم رڼا شي رانه ښېرته تښتي

زړه کې مې ډېرې ګیلې شته خو زړه مې تاسره دی
لږ څه مې ذهن کې پیدا شي رانه ښېرته تښتي

دجانان وصل وي یوه شښبه ښېلتون سر او کال
میاشت کې یوه ورځ نیمه پخلا شي رانه ښېرته تښتي

مړوند په سترګو باندې کښږدي چې حال ونه وایي
ماته راګوري په خندا شي رانه ښېرته تښتي.

سکوت او شور

داسې وخت هم و چې به ما په لویه لاره ژړل
ماشوم زړګي به مې له ګله هم له خاره ژړل

ما به د خپل زړه سوې سانديې هم سندرې کړلې
ستا جدايۍ کې چې به ما دا ستا لپاره ژړل

هغه بدرنګې شېبې هم زموږ په چم تېرې شوې
چې به مو سپينه ورځ د توري شپې له ډاره ژړل

چې به مې ياد شوې تيارو خونو کې ببوزلې حورې
ما به د ښار هرې ډيوې ته تر سهاره ژړل

شمسزيه څه ښکلې جګړه وه د سکوت او د شور
دې له ټينګاره زما، ما يې له انکاره ژړل

الماس

څوک چې یو ګام راسره لاس په لاس شي زړه ورکوم
چې رابنکاره په چا کې لږ اخلاص شي زړه ورکوم

غږه مې هر چا ته پرانیستې یم چینه د مینې
بنکلی که هرڅومره تږه الماس شي زړه ورکوم

دغرو او دښتو ساده خلک یو چل نه پېژنو
چې لږ دښمن هم راته تیت و پاس شي زړه ورکوم

ورځم د تورو غرو تر شا ویدې جذبې ویښوم
که مې ملګری څوک په دې احساس شي زړه ورکوو.

دعا

جوړ مې له ښېرو نه شي دعا په دغه ښار کې
ښکاري چې قبلېږي نه ښېرا په دغه ښار کې

خدای ته به لاسونه په دې هیله لپه نه کړم چې
دا سړی غلام کړه دا پاچا په دغه ښار کې

موږه لپونې دځلورلارو یو خو ورځ رائې
پېغلې به شیندي پر موږ ښکلا په دغه ښار کې

خدایه قربانې زمور ددې لپاره نه وه چې
چور دې شي ښایست لوټه حیا په دغه ښار کې

دغه فیصله به ستا همزولو باندې وکړمه
شوم که مخامخ درسره بیا په دغه ښار کې

وړاندې زمانه درسره نوره یاري نه کړې
ګرځه یو څو ورځې په خندا په دغه ښار کې

نجونې وایي ښکاري چې شمسزیه مین شوی یې
ټوله ورځ یې ځان سره لګیا په دغه ښار کې

درد

غوټۍ غوټۍ شي خو موسکي نه شي ګلونه دلته
ښکاري غوړېږي نه د زړونو ارمانونه دلته

دتورې شپې تیاره او درد ته خپه نه یم دومره
خو کاشکې وای دسپېده دم غوندې لاسونه دلته

وخته دخپلې ببوسۍ تصویر چې ګورمه زه
ښکاري رښتیا نه شي زما یاغي خوبونه دلته

ستا تر وصال دمخه ښه په زوره وژاړمه
تر هر سپرلي مخکې اوربږي بارانونه دلته

شمسزیه اور د نفرتونو او هوس الوتی
غواړي سکاره کړي دا څو پاتې دېوالونه دلته.

شاعرانه خبرې

دا به وي ګرانه څه چې ته رانه ارمانه غواړې
فصل مړه ځمکه کې د اوښکو ـله بارانه غواړې

څو کاله کېږي پسرلی پرې غوړېدلی نه دی
خوته موسکی موسکی غاټول ـله بیابانه غواړې

زمانې دې کې کومه پټه فلسفه پرته ده
ستومانه روح مې په بدن کې سرګردانه غواړې

ښکاري زما د سندرېزې لارې مل شوې ښکلیه
چې هره ورځ شاعرانه خبرې مانه غواړې

دښار څه خلک د هر چا په عبادت روږدي دي
شمسزیه هسې تقدس یې له ایمانه غواړې.

چېرته بل ځای

غورېږي اسمان دلته او اورېږي چېرته بل ځای
په برخه مو دي شپې سپورمۍ غوړېږي چېرته بل ځای

مورۍ سل خزانه ګالو ديوه سپرلي په تمه
هغه هم چېرته لاره کې تاوېږي چېرته بل ځای

عجيبه شان سلوک کړي دجانان د زلفو ولونه
زيندۍ شي زما غاړې ته خورېږي چېرته بل ځای

حيران يمه دسپينو ستورو دغه نزاکت ته
سترګک وهي ټول ماته او ځلېږي چېرته بل ځای

زما د زړه انګړ ته يې غمونه رالېږلي
په خپله د جانان تصوير اوسېږي چېرته بل ځای

د زړه خاموشه ښار

هغه هم ولاړه هک حیرانه وي چې نه یمه
بس لکه دستوري پرېښانه وي چې نه یمه

مرګه ستا له وېرې هره ورځ رانه پوښتنه کړي
بل به څوک نړدې درته تر ځانه وي چې نه یمه

ستا د زړه خاموشه ښار زما په نوم ودان شولو
دغه پاچاهي به ببرته ورانه وي چې نه یمه

زه یم چې وفا درنه د سر په قیمت غواړمه
بیه د ښکلا به دې ارزانه وي چې نه یمه

وایي په کې زه یم چې خبرې دې غزلې دي
شعر به دې شمسزیه بې عنوانه وي چې نه یمه

توپان

دا نن چې لکه ستوري پرېشان یو زه او ته
منزل ته تورو ورېځو کې روان یو زه او ته

راځه چې مخ ور واړوو پوښتنه ترېنه وکړو
ترڅو به زغلولي دې توپان یو زه او ته

دا خیر که مو غماز ترمنځه جوړه فاصله کړه
په زړونو کې خو یو بل ته ښه ګران یو زه او ته

زه خیر ستا د ښایست غواړم ته خیر زما د سر
ولاړ د بلا مخې ته حیران یو زه او ته

یو وخت و چې د سرو ګلونو غېږ کې اوسېدو
اوس سترګو کې اغزي د ټول جهان یو زه او ته

شمسزیه د مرګ کومي ته دانګل وي یوه ورځ
تر کومه به په لټه د امکان یو زه او ته.

د بخت ستوری

ته په رښتیا چې یې دغم مقابلې ته ولاړ
د ژوند د ستړي پېچ وخم مقابلې ته ولاړ

شور کې د خپلو اسویلو راز د تخلیق لټوې
یې د بادار د جهنم مقابلې ته ولاړ

ستا یوې سترګې نه خندا بلې نه اوښکې څاڅي
څومره ډاډه یې د ماتم مقابلې ته ولاړ

خدایزده چې چا دې د بخت ستوری نړولی ګرانه
چې خالي لاس یې د تورتم مقابلې ته ولاړ

غوښتل مې زه لکه سپرلي ستا پر زړه وغوړېږم
کاش نه وای ته مې د کرم مقابلې ته ولاړ.

قلنګ

يا به له ښاره وځي يا به هم قلنګ ورکوي
که دا ونه کړي نو سرزوري ګوابښ د جنګ ورکوي

دخپل قاتل دې هوښیاري ته هم حیران یمه زه
زما د قتل ارادې ته د ژوند رنګ ورکوي

څه جادوګر دی لوی واړه ورته سرونه ټیټ کړي
په همیانې کې یې څه شته هغه ته شرنګ ورکوي

د لښکرونو پاچا پام په ملنګانو کوه
دلته د ماتې او بري زیری ملنګ ورکوي

چې مازیګر لمر په لوبدو شي نو ټپه ټپه شم
ته وا، څوک شته زما د زړه رباب ته ترنګ ورکوي.

خواخوږي

څو کاله کېږي
لر او بر ګرځېدم
ما یو خواخوږی، یو جانان لټاوه
ما مې د خپلو لېونو خیالونو
هغه ښایسته ښاپېرۍ نه موندله
چې یې تصویر زما په زړه
زما په روح کې
پروت و

اخ ښه شوه،
څومره ښه شوه،
ډېره ښه شوه،
ما د زريني شپې،
له سپينو ستورو،
ډک اسمان کې
ته وموندې
ما دې په سترګو کې
دخپل زړه ناڅوابه
سوالونو ته ځواب وموندە
ما مې،
د خپل ژوندون ،
تياره ما ښام ته،
سپينه سپوږمۍ وموندله
نو گراني !
څه دنيکمرغۍ شېبې دي،
راځه چې اوس د غره لمنه کې،

دنیا نه لرې خپلې تېرې،
هېرې بد مرغۍ
وژاړو

پرېږده که خدای وکړي
زمونږ د اوښکو سیند
زمونږ پر کلي
هم سپرلی راخور کړي
او دا سپرلی

زمونږ
د ټولو کلیوالو هیلې وغوړوي.

زه او جانان

زه او جانان مې په څه چل دواړه یو ځای اوسېږو
لاس مې لنډ کړی د اجل دواړه یو ځای اوسېږو

مورِ ځپل شوي د یو بل تر سیوري لاندې خوښ یو
څېرې ګربوان او جړ وربل دواړه یو ځای اوسېږو

شپې د سپوږمۍ دي اوس د ستورو منځ کې ژوند تېروو
یو بل ته اوروو غزل دواړه یو ځای اوسېږو

زه هم شاعر یم د فطرت په شهکارونو مین
غر دې خوښېږي که ځنګل دواړه یو ځای اوسېږو

نور مو په غره کې لټوئ لکه نښتر او څېرې
زه او شمسزی شډل بډل دواړه یو ځای اوسېږو.

لمبې

سپورېمۍ هم نه وه د تیارو په منځ کې پاتې ومه
بېګاه د اوښکو د ډیوو په منځ کې پاتې ومه

خود به ښایسته یې چې ګلونو سره ژوند تېروې
زه خو څو کاله د لمبو په منځ کې پاتې ومه

ته چې د ښار شوې ته هوښیار شوې زه ساده په دې چې
ولې دخپلو تورو غرو په منځ کې پاتې ومه

لاس دې په وخت رانه کړو اوس ببړې د امن شولې
ښه دې لیدم چې دخپو په منځ کې پاتې ومه

هغه مهال چې دقسمت تر وزر لاندې نه وم
د ډبرو خپلو او پردو په منځ کې پاتې ومه

شمسزی چې داسې لښونی اوسودایي ګرځمه
یوه شببه د ښاپبرو په منځ کې پاتې ومه.

ددنیا دوزخیان

خدایه دا موږه په دنیا دوزخیان؟ !
سلګونه ورځې مو،
د اوړي د تاوده لمر،
په دوزخ کې،
داسې تېرې شوې چې،
نه مو د خاورو بام لیدلی
اونه شنه اسمان کې وریځ
زموږ پر سر سیوری شو،
ښایي،
دوزخ کې به هم،
دومره ګناهګار بندګان،
خوار نه وي چې،
تنده یې وژني،
او اسمان پرې،
د یو څو څاڅکو باران ونه کړي.

غربت

زمونږ ښوسه سترګې،
پوره یو
اوړی،
دسارا ـله تورو کانو سره وژړېدې.
اوس بیا د ژمي شپې دي
زمونږ ښوسه
او بې خوکه ماشومان،
د بشریت متمدنه پېر کې،
دیخ ـله لاسه،
په بې بامه،
بې کړکیو،
کنوالو کې،

په دې هیله، کنګل شوي
ناست دي،
چې د ساړه ژمي سیلیو نه
د خپل ژوندون،
ډیوه وساتي.

راځئ !
ددې پېړۍ،
د ژوند د پرمختګ ننبې
زمونږ څېرو کې هم وګورئ،
ایا
نړۍ کلی کېدل
خلک همدې ته وایي؟؟ !

مرګ او ژوند

اوس بل جانان لرمه ستا په تمه پاتې نه یم
غم سره خوښ یم د خندا په تمه پاتې نه یم

زه د ستار غوندې په خپله هم اوازلرمه
یوازې توب کې هم د چا په تمه پاتې نه یم

هوا خو نه یم چې د واورې په څپه ورکه شم
وزر مې شته خو دفضا په تمه پاتې نه یم

دمرګ او ژوند ترمنځ یو راز دی همغه لټوم
نور ددنیا او ما فیها په تمه پاتې نه یم

تش دومره غواړم چې تر تلو مخکې یو څه ووایې
خیر که ادنی وي د اعلی په تمه پاتې نه یم

مغروره غوټۍ

که سپرلی بیا زمونږ پر کلي راغی،
نو ته پوهیږې
زه به څه کومه؟
زه به،
د خپل مالت،
تنکي، تنکي،
ښایسته ګلونه،
زه به،
دخپلو تورو غرونو نه،
نازکې،
سرې او سپینې غوټۍ،
لکه پخوا غوندې راټولې کړمه،
خو دا ځل،

هغسې سودا نه کوم،
چې مې د خپل کلي
تنکي، تنکي ګلونه،
پانې پانې کړمه،
او بيا يې څوک
دکوم ظالم تر قدمونو لاندې وغورځوي
ما مې له خدای سره وعده کړې ده.
نور به،
دخپل کلي مغروره غوټۍ
ددې دنيا بې قدرو
خلکو باندې نه خرڅوم،
نور به،
د خپلو خړو غرونو
سره ګلونه،
دخپل کلي مستو پښغلو ته وړم.

زمونږ ښار او زمونږ کلی

زمونږ ه ښار او زمونږ کلی
یو تر بله لرې،
کټ مټ، زما او ستا
ترمنځ چې دبېلتون
فاصله
کلی همدومره،
ښار نه لرې پروت دی.
نن مې له ښاره بیا تر کلي تګ و

زمونږ تر کلي پورې،
د ګاډۍ لس دقیقې لاره ده،
زما په مزل،
نیمه ګړۍ.
ګاډۍ مې نه خوښېږي،
تر کوره ټوک ټوک،
او پنځه افغانۍ هم لاړې شي.
نن مې
په دې پیسو بازار کې
د غزلو مجموعه واخیسته،
ښار نه
تر کلي پلی راغلم،
ټول کتاب مې ولوست،
نه زما نیمه ګړۍ لاره وه
او نه،
د ګاډۍ لس دقیقې،

بس
ټولـه لار مې
لـه کتـاب سره خبرې کړې،
نه د زاړه ګاډيوان چيغې
او نه ما لاره کې،
ګام په ګام،
حساب کړی دی،
نو ته اوس ووايـه چې
ګټه مې وکړه
او کـه زيان مې کړی
دلس يا دېرشو دقيقو،
لاره يوه شېبه شوه،
کورتـه چې راغلمـه،
همدغـه شعر مې هم وليکـه... !

جنګ

خدایزده کوم لور ته روان یو خبر نه یو
اوس په غېږ کې د توپان یو خبر نه یو
د رڼا او د تیارو په منځ کې اوسو
لکه ورېځې سرګردان یو خبر نه یو

جادوګر وخت په موږ داسې کوډې وکړې
اوس مو یو بل ته لاسونه نه اوږدېږي
فاصله زموږ تر منځ ده ډېره کمه
خو دا زړونه مو د لمر غوندې ډوبېږي

دیو بل سترګو کې ډېر رازونه وینو
خو کوشو کې اوس پاچا قاتل مامښام دی
هر ګلاب خپلو اغزیو باندې وژني
دښکلا ددښمن هرې خوا ته پام دی

که ددې یاغي توپان غرور مات نه شي
دهېڅا ببړۍ به بچ نه پاتې کېږي
فریادونه به یې ټولـه نړۍ واوري
وار په وار به دا ښارونه ټول نړېږي

عظمت به انسان تر خلي سپک شي
هر سړی به تش د خپل هوس غلام وي
دسکې پر یوه مخ انځور د سولې
په بل مخ به یې تصویر د قتل عام وي

که دا جنګ د عقیدې که د ټکې دی
خو چې مخې ته یې سرونه پورته نه کړو
دا څپې به د غرو څو کو ته هم خېژي
که جنډو غوندې لاسونه پورته نه کړو.

زمونږ د ژوند پانې

لکه د ونو
دا تنکۍ پانې،
چې،
څانګو کې وټوکېږي،
شنې شي،
او د وخت په تېرېدو يې
بڼه ژېړه شي،
ترپ،
ورژېږي.....
مونږ هم کټ مټ داسې يو.
دنيا کې،
وزېږېږو،
وغوړېږو،
لا مو يو بل سره په ډکه خوله،
خندلي نه وي،
چې مرګی راشي
او د ژوند پانې مو ورژوي....

اوس هم په باد مین یم

زه لا هماغسې یم،
اوس هم په باد مین یم،
اوس هم،
تمام اوړی، په بام ویدېږم،
اوس هم،
د پلارپه زنګېدلي،
کټ کې ،
ټوله شپه،
اسمان سره خبرې کوم.
زه لا هماغسې تمامه شپه،

له ستورو سره مینه کوم
زه لا هماغسې،
د ستورو په مرګ،
چیغې وهم،
کړیکې کوم،
ځان سره ټوله شپه تیارو ته،
بدې ردې وایم،
څه عجیبه، سړی یم
زه مې،
د مور،
دروغ، رښتیا
خپلو،
کوچنیو ماشومانو ته
میراث کې پربږدم
بس چې مانبام شي،

نو
دخپلې مور
یوه، یوه کیسه راواخلم،
زامنو راشی !
لورکی راشه،
ښه نږدې پرېوځئ،
هغه دی وګورئ
اسمان کې،
هغه کټ وګورئ ،
هغه څو ستوري ښیم،
تاسې لږ چوپ شئ !
دمورجانې،
یوه خبره مې رایاده شوله
مور به مې هر مانښام کیسې کولې
زه چې ماشوم وم
مابه ټوله شپه اسمان ته کتل
مور به مې ویلې:

چې زامنو !
دا اسمان،
تر ځمکې ډېرښایسته دی.
هغه دی ښه وګورئ،
هغه څو ستوري
چې یو ځای راټول دي،
هغه یو کټ دی،
یو زمری دی
او د کټ پښه کې اوزه تړلې
هغه دی ښه وګورئ،
زامنو وګورئ،
اسمان
تر ځمکې،
ډېرښایسته دی.
هلته یو لمر دی
یوه سپوږمۍ ده،
او یوه ګله دستورو ښکاري

هغه دی وګورئ
په خپلو سترګو
چې سپوږمۍ
څومره ښایسته ده،
او په منځ کې یې،
څېره ده
څومره ښکلې ښکاري ! !
مور به مې
دلته لږ څه چوپه شوله
مور به مې غلې شوله،
ښایي څه وېره
به یې زړه ته راغله،
خو مورږ به بیا لکه چنچنو
شور ماشور جوړ کړ
چې موږې !
ګرانې موږې،
دا ته ولې داسې غلې شولې؟

موږ، خبرې کوه !
موږ سپوږمې کې نو دا څه دي
چې موږ نه پوهېږو ،
مور به مې بيا
غاړه تازه کړه
او زموږ ماشوم
خيالونه به يې
ځان سره اسمان ته بوتلل
هغه ده ښه وګورئ
هغه سپوږمۍ ده
او په منځ کې يې
سپېځلې ملايکه ناسته
تاسې ته ښکاري
او که نه
تاسې لږ ښه وګورئ
هغه چې تت ښکاري
هغه درښيم

هغه سپېځلې ملايکه ده
په لاس کې يې زرينه شپېلۍ
داسې شپېلۍ
چې،
په اواز به يې دنيا لړزېږي
مور به مې بيا
لږ تکنۍ غوندې شوه
موږ به له ډېرې تلوسې نه
يو ځل بيا
مور ته په چيغو چيغو وويلې
موږې !
خوږې موږې
کيسه کوه رښتيا چې
دا اسمان
تر ځمکې ډېرښايسته دی
موږې راځئ چې موږه هم
اسمان ته کډه وکړو

مور به مې کټ کټ
په خندا شوه،
او په مورې به راخوره شوه
او یو یو به یې پر سرښکل کړو
بیا به یې ویلې:
نه، نه، بچیانو
انسانان
اسمان ته کله تلی شي
اسمان ته
لار د ختو کله شته دی
اسمان د ستورو ځای دی
اسمان ته هغه څوک ورتلی شي
چې یې زړونه لکه لمر
لکه سپوږمۍ
لکه لیلا
لکه مجنون صفا وي
اسمان دمینې ځای دی

موږ انسانان یو
موږ د مینې په چل نه پوهېږو !!!
موږه د ځمکې په سر ټول عمر
له یو بل نه نفرت کړی دی
موږ ته
اسمان په خپله غېږه کې
ځای نه راکوي
بچیانو غلي شئ
ویده شئ
چې اوس لمر راخیږي.....

ماشوم کاته

نن دې ماشوم ماشوم کتو ته حیران پاتې یمه
بس د الله پاک قدرتو ته حیران پاتې یمه

دچا تر زړه تلل که اسانه وي نو ګرانه هم وي
دجانان سترګو غلچکو ته حیران پاتې یمه

دغه رڼا زما شعور ته کومې خوا نه راغله
ډېره تیاره وه دې سپېدو ته حیران پاتې یمه

ځای د پښتو چې شي سکروټه په ورغوي کې وړي
زه دې شډلو پښتنو ته حیران پاتې یمه

تمامه شپه مې په لمن کې لکه ستوري ګرځي
د خپلو اوښکو سلسلو ته حیران پاتې یمه

په مستۍ راشي زما خیال کې ټپې وټښنوي
ترنګ د رباب شرنګ دبنګړو ته حیران پاتې یمه

اجل

دا خو دې بيا زما خوښيو ته اجل راوړی
زمونږ د ړنګ کلي په څېر دې ړنګ وربل راوړی

نه لرم څه چې دې ډالۍ کړم پښتني ښايست ته
جانانه واخله يو مې زړه يو مې غزل راوړی

رائځ چې پرانيزو له ملا يې د مرميو چانټه
چا يو تنکی زلمی ساتو ته د مورچل راوړی

د زړه وطن مې د تنکو هيلو په وينو ساتم
که نه وحشي غمو پرې څو ځلې يرغل راوړی

ښايي چې ته مې هم اړ شوی يې غلام زړګي ته
چې دې بادار حسن غلام ته په درشل راوړی.

کاینات

څه مینه ګرکي کاینات دي
څومره ښکلی ژوند دی
تمامه شپه
ستوري، سپوږمۍ
راسره مینه کوي
چې سپېده دم شي
بلبلان راته

خوږې خوږې نغمې غږوي
او باد
ورو ورو
د تنکو ونو پانې ونڅوي
سهار کې لمر
په خپلو تاندو
او نازکو طلایي ګوتو
زما بدن لږ وتخنوي
چې مخ ور واړوم
په سترګو کې موسکی وي
تر ما مخکې
راته ووایي
سهار دې په خیر.

انتقام

له بل چا نه‌له خپل ګربوانه انتقام اخلمه
ددې بايللي جنګ‌له ځانه انتقام اخلمه

ددې بازار په سوداګرو مې لاس نه برېږي
له خپل بېوسه شان ارمانه انتقام اخلمه

چې سترګې مړې واړوې اور مې په زړه ولګوې
يو ورځ به ستا له دې حيا نه انتقام اخلمه

اوس دې په لاس کې د ښکلا هغه رنګونه نه شته
اوس مې زړه نه کېږي چې تانه انتقام اخلمه

لېونی فکر غولوم ژړا کې وخاندمه
په دغه چل ستا ـله سودا نه انتقام اخلمه

دښتو کې وایمه سندرې ښار کې غلی ګرځم
هره ورځ داسې ـله دنیا نه انتقام اخلمه.

د زړه زلزله

لامې فکرونه غولوم لا دې د ځان ګڼمه
لا دې نغمو کې یادوم لا دې جانان ګڼمه

خدایزده چې څه مې زړه ته راشي زړه مې ولړزوي
زه خو د زړه زلزله وبره د ایمان ګڼمه

پربږده له سترګو مې څپې د اوښکو وبهېږي
زه بارانونه پېرزوینې د اسمان ګڼمه

وخت که مانښام وي که سحر خو چې ببلتون راولي
غماز که تور وي او که سپین زه یې شیطان ګڼمه

ته وایه بس دی شو ترسره دې ارمان شمسزیه
زه وایم نه، زه خو نیمګړی خپل ارمان ګڼمه.

زخمي کلونه

نه مې هغه خوږې کیسې او نه مې شپې هېرې دي
نه مې سپرلي کې د بلبلو ترانې هېرې دي

دښار کوڅو کې هرڅه شته اشنا غږونه نه شته
ځکه مې وینو نه پخوا غوندې جذبې هېرې دي

اوس مې هم یاد دي د خپل تېر عمر زخمي کلونه
ګومان ونه کړې چې له مانه ستا وعدې هېرې دي

چې په نغمو يې لوبول د ولو شنه ښاخونه
اوس کلیوالو نه دسیند مستې څپې هېرې دي

وختـه ـله تا سره زما لوبه لا ختمه نه ده
لږ صبر وکړه ما نه خپلې ارادې هېرې دي

شمسزیه شته مو لا په زړه کې د ایمان بڅره
خو تش ـله مورږ نه د احساس بلې لمبې هېرې دي.

د گورګرو بازار

د لېونیانو دخبرو بازار وګوره اوس
د ببرسرو قلندرو بازار وګوره اوس

چې په یوه ټنګه به نه اخیست چا دې کلي کې
زمونږ د اوښکو مرغلرو بازار وګوره اوس

هغه زما د بولۍ غږ و چې اسمان ته جګ شوې
رائحه د خپلو سوداګرو بازار وګوره اوس

څنګه دې اخیستې له مونږ نه د سکرو په بیه
زمونږ د غرونو د ننبتترو بازار وګوره اوس

سږ کال باران وشو دغرو لمنې وغوړېدې
راشه پکتیا ته د ګورګرو بازار وګوره اوس.

شک

نړۍ په نه وي له هېڅا نه دومره لرې نه دی
په تا مین ګوره له تا نه دومره لرې نه دی

خیر لېونی به نه یم یاره خو ستا شک منمه
زموږه کور هم له بیدیا نه دومره لرې نه دی

چا ویل زما لاس د سپوږمۍ تر زلفو نه رسېږي
دغه خبر خو له امکانه دومره لرې نه دی

مینې دې څومره لوی کمال وکړ شاعر یې کړمه
اوس مې هنر ستا له ښکلا نه دومره لرې نه دی

د مینې لاروي

کله ځان سره په جنګ یو کله خپلو کې پخلا یو
نه خبر په ابتدا یو نه خبر په انتها یو

مورږ دمینې لارویو سل ترخه جامونه څښلي
دلته سل ځله مړه شوي یو او سل ځله پیدایو

په بدل کې یې له خدایه دې وطن ته سپرلی غواړو
لوی واړه چې لکه وریځې په سلګیو په ژړا یو

دا منم درسره مورږ د غرو او دښتو ساده خلک یو
خو ظاهر او په باطن کې ائینې غوندې صفا یو.

د نبايست قدر

جانانه ژوند دی چا ته ژاړم چا ته وخاندمه
تياره کې ناست يمه خپه، رڼا ته وخاندمه

ستا د نبايست قدر به ياره دومره بس وي که نه
چې ستا د هر ظلم بدل کې تاته وخاندمه

دشپې شبنم غوندې اوربڼم په ګلونو باندې
سهارکې ستوری شم فاني دنيا ته وخاندمه

چې ماته ګوري لږ موسکی شي سترګې مړې واړوي
زړه کې مې پټ د جانان دې جفا ته وخاندمه

زمونږ دکلي منځ ته راشي بل ته لاس ورکوي
له ډېره غمه د یار دې سزا ته وخاندمه

دمینی زور دې اوس تر دې حالته راوستمه
له مجبوری دې هرقاتل ادا ته وخاندمه

د جذبو غوندې خبرې

هغه چې ته به يې ګوابنلې اوس دې خيال هم کوي
ته چې رائې ستا د راتللو استقبال هم کوي

داسې وخت راغی فرق د دوست او د دښمن نه کېږي
دلته دې وژني هلته ستا د ژوندون سوال هم کوي

څه زورور دي ښکلي هرڅه کې چېړ خوند ورکوي
په رڼا ورځ درنه زړه پټ کړي بيا جنجال هم کوي

ډېر شاعران به د ښکلا له ښاره تش لاس وځي
که څومره ذکر دبېلتون او د وصال هم کوي

شمسزی چې څه وايي جذبو غوندې رښتيا يې وايي
که نه خبرې خو د تور بازار دلال هم کوي

د غم لمر

لرې ولاړ وم د ورتللو په چل نه پوهېدم
رښتیا به وایمه دښکلو په چل نه پوهېدم

فکر مې نه و سین د سترګو کې یې پرېوتمه
بیا نو تر ډېره د وتلو په چل نه پوهېدم

ستا انتظار کې غلی ناست وم ستا په څېر نه ومه
زه د وعدې د ماتولو په چل نه پوهېدم

ته رانه لاړې زه دې داسې ځای کې پرېښودمه
چېرته چې زه د اوسېدلو په چل نه پوهېدم

شمسزیه دې کلي کې هغه د غم لمر ومه زه
چې مانښام هم د پرېوتلو په چل نه پوهېدم

راز

زما ژوند ښکاري
کوم راز دی
او
څه راز شته زما ذات کې
زما ورځې
شپو کې ورکې
او شپې ټولې
په فریاد کې
دا ټکرې
چې خورم ښکاري
زما لاس دی د چا لاس کې
پته هېڅا ته هم نه شته
پټ مې څه دي په وسواس کې
رقیبانو ته مې وایئ
چې په خپل حال مې لږ پرېږدي
یوه ورځ به دا ښار لولي
څه ضرور زما په یاد کې.

زه هم د ګل په شان وم

له ځانه درته ګران وم یو څو شپې ورځې مخکې
زه هم دا ستا جانان وم یو څو شپې ورځې مخکې

راپرېوتم ــ له برمه د چا د سترګو بنکار شوم
یو ستوری د اسمان وم یو څو شپې ورځې مخکې

چې سره ګلونه وینم په خیال کې مې را ګرځي
زه هم د ګل په شان وم یو څو شپې ورځې مخکې

دا هم د وخت ګردش دی چې هېر شومه ــ له خلکو
موضوع د هر داستان وم یو څو شپې ورځې مخکې

اوس هره ورځ رائې خو زما زړه کې ځای نه شته
ددې کار په ارمان وم یو څو شپې ورځې مخکې.

دروغ

بلا دروغ غلي دي ستا د سوګندونو شاته
لکه اغزي چې چوپ ولاړ وي د ګلونو شاته

زما او ستا د راز خبرې ښار ته ووتلې
ښکاري څوک پټ و ددې خړو دېوالونو شاته

داسې یو وخت و چې نغمې زما په نوم جوړېدې
اوس نو یادېږمه د اوښکو دسیندونو شاته

ستا د خندا تر شا د غم د پاچاهۍ تصویر دی
توره تیاره ښکاري د ستورو د مخونو شاته

چاچې زمونږ له ببوسیو سره لوبې وکړې
پټ د خدای قهر و زمونږه د اهونو شاته

شمسزیه ستا تر کوره دومره ژر راتللی نه شو
د چا پوکی و د لمبو او د اورونو شاته.

د بابل جادوګر

وروسته تر دې درسره داسې رقابت کومه
ته ـ له ما کرکه کوه زه به محبت کومه

تاته به ښه ښکارېده زه دې ـ له زړه وویستمه
خو زه پښتون یمه د خپل مېلمه عزت کومه

په خپله خوښه زه د ګل په دام کې ونښتم
څه ضرورت دی چې به چا ته شکایت کومه

زما د سپینې تورې مخې ته ببوسه شولو
دسر دښمن سره مې ځکه شرافت کومه

دجانان سترګو کې اوسېږي د بابل جادوګر
شمسزیه نور ترېنه په زغرده بغاوت کومه.

ګونګې کښې

زما او ستا راز دې زما او ستا په زړونو کې وي
هره موضوع نه کوي خوند چې کتابونو کې وي

ته دې لاس راکړه چې دا ګونګې کښې ولولمه
که څه زما او ستا په باب ستا په لاسونو کې وي

چې سترګې پټې کړمه هر څه رانه لرې تښتي
یوازې ستا غم مې ملګری په خوبونو کې وي

زه چې په کومه ويناخلکو ښار نه وويستمه
سبا به دا د وخت په ټولو نصابونو کې وي

اوس هغه خلک هم زمونږه د پښو پل ورانوي
هغه چې غلي ناست زمونږ په محفلونو کې وي

شړلو خلکو کې موندلی شې ګوهر د وفا
شمسزیه څومره قیمتي کانې په غرونو کې وي.

خرابې

ته چې موسم غوندې ساعت کې بدلېدې جانانه
سهوه دې وکړه چې زما زړه ته راتلې جانانه

زه که اغزی یم نو لمن دې رانه لرې ساته
که زه ګلاب یمه وربل کې به مې ږدې جانانه

هېڅ پروا نه کړي چې سپورمۍ او لمر مې واک کې نه دي
دا به وي ډېره چې زما دي ورځې شپې جانانه

ته لکه سیند یې سم او غر ستا د رضا تابع دي
خوښه دې خپله ده په کومه خوا چې ځې جانانه

پوهېږم نه چې دا شهرت که رسوایي ده زما
هر چېرته شته زما د مینې اوازې جانانه

شمسزی خړ پړ دی خو په زړه کې مینه ډېره لري
په خرابو کې پیدا کېږي خزانې جانانه.

غمجنه رخصتي

پرون جمعه وه رخصتي وه ګراني
ما مې د خپلې کوټې ور
ځان پسې وټړلو
غوښتل مې تاته
پس له ډېرو مودو شعر وليکم
خو شعر؟!!
شعر هم تا غوندې
مغروره ښاپېرۍ ده ګراني
شعر په کومه ورځ چې زه لټوم
نه يې وينم

پرون جمعه وه رخصتي وه ګراني
ما مې د خپلې کوټې ور
ځان پسې وټړلو
غوښتل مې تاته
پس له ډېرو مودو شعر وليکم
خو شعر؟ ! !

شعر
ونه ليکل شو
زه مې،
د خپلې الماری
مخې ته ودرېدم،
زړه مې و داسې يو کتاب پيدا کړم
چې مې،
د خيال ښاپېری،
وتښنوي ويښه يې کړي
خو ته پوهېږې ګراني؟ !
زما په ډکه الماری کې لاس

پر هغه ډایرې ولګېد
زما له کومې ډایرې نه چې ته
وېره لرې
زما له کومې ډایرې نه چې ته،
کرکه لرې
باور دې کېږي که نه؟
چې ته مې یاد شوې
زه مې هم
له خپلې توري ډایرې نه
لږ څه ووېرېدم
لاس مې راکش کړو
خو په دې شېبه کې ترپ شو
ډایرې پر ځمکه پرېوتله
د ډایرې منځ نه،
د هغه وچ ګلاب
پاڼې هم تویې شولې
چې مې تر اوسه هم

ددې ګلاب څښتن لا پېژندلی نه دی
اخ !
دا ګلاب خو رانه ورژېده
ما ویل چې
زه به دا ګلاب،
تر ډېره عمره ساتم
ما ویل چې
زه به یې
څښتن ته،
دګلاب بدل کې زړه ورکوم
اخ !
دا مې څه وکړم؟
دا ولې وشول؟
په خدای باور وکړه
چې ډېر خپه شوم
لاس مې ور وغځاوه
مات ګلاب مې
ببرته ډایرۍ کې کښښود،

او ډايرې سره
ورو ورو
د رنا خوا ته راغلم
اوس مې نو وغوښتل
د تېر ژوند پانې،
يو پربله واړومه
اه !دا څه دي؟ !!
[ماته يادگار وليکه]
ما په غياب کې
ستا له شعر سره مينه کړې
ما مې و ذهن کې
دا ستا خيالي تصوير جوړ کړی
نښه شو چې ومې ليدې
ما ته يادگارولیکه.....
دا مې،
د هغې ډايرې،

د لومړي مخ
کښې وې
هغه چې ته اوس،
ترښه کرکه لرې
هغه چې ته اوس،
پرې نیوکه لرې
تر لږ سوچ وروسته مې،
ددې ډایرۍ،
نورې پانې واړولې
اوهو !
دلته خو هم
دا ستا په لاس
لیکلي توري شته دي
دا نو پوره دوه میاشتې وروسته
لیکل شوي
هغه توري دي چې:
زه او ته دري ورځې خپه وو

څلورمه ورځ
په سترګو کې،
موسکی شوې راته
غلې دې ځان سره،
دا شعر وویل
نه مې ته شې هېرولای
نه زما له خیاله وځې
ځه پخلا به شو جانانه
زه هم ستړی ته هم ستړی
په خدای باور وکړه،
چې:
ډېره ځوروونکې شوله
زه مې،
له خپلې ډایرۍ نه رښتیا ووېرېدم
ما ته مې خپله ډایرۍ
ورکې شېبې یادوې
زه نور د خپلې ډایرۍ

پانو ته نه شم لیدای
ورو مې دخپلې ډایرۍ وزرونه وترې
او بنده مې کړه
په سوچ کې لاړم،
پر ځای وغځېدم
اوس نو خوب هم نه راځي
او شعر هم رانه غی
جیب ته مې لاس کړ،
چې سګرټ وباسم
ویې څکم
یوه شببه پر دې تبره کړم
سګرټ مې ولګاوه
ما د سګرټو دلوګیو نندارہ کوله
په همدې خیال کې وم
یو سپین مړوند را وغځېده
غوښتل یې خپلې تنکۍ ګوتې
د سګرټ په انګار وسوزوي

څه کوې؟
څوک یې؟

اف؟؟ !
د سګرټو څکل دې نه خوښېږي؟؟
ما ـله دې وېرې
چې غیبي مړوند دې اور وانخلي
سګرټ د باندې وار کړ
بیا مې د خپلې
ډایرۍ پاڼې راواړولې

اه !
څه غمجن انځور دی !!
دا څه ترخه توري دي
په ډایرۍ کې مې
له دې نه وروسته،
هېڅ هم نه شته
فقط پنسل باندې جوړ شوی
یو تصویر دی

چې يې پورته دي جوړه لاسونه
دغه زما د ډايرۍ
هغه وروستۍ توري دي
چې په وروستي ورځ ته خپه شولې
او دادې وويل:
زه نور هېڅا سره،
نه شم جوړېدلای
اخ!
دا مې څه وليدل؟
دا نيم بيتي،
او دا جوړه لاسونه!!
ما خو ويلي وو
ددغې ډايرۍ کښنو ته نه ګورمه
اخ!
دا مې ولې واخيست
ببرته مې خپله ډايري
په الماری کې کښنوه

او الماری نه مې
دویم ځل،
د کتاب پر ځای
راډیو واخیسته
ورک یې کړه
نور د کتابونو پانې نه لولمه
د هر کتاب لفظونه ماته
خپلې تېرې خاطرې یادوي
او زه
دتېرو خاطرو تصویر لیدلی نه شم
دا راډیو ډېره ښه ده
غوښتل مې دا ځل
په راډیو پام بلې خواته یوسم
راډیو مې ولګاوه
له لګولو سره سم
زما راډیو کې دا سندره راغله
زه نور هېڅا سره نه شم جوړېدلای

که نه څومره څومره ښکلي دي جانانه
اخ په راډيو کې هم
هماغه غم دی
دچا لـه لاسه،
چې ما خپله ډايري پټه کړه
زه نور لـه دې کوټې نه لرې تښتم
تر دې کوټې پورې يې هم
غيبي لاسونه رسي
تر دې کوټې پورې يې هم
پټ اوازونه راځي
زه نور
لـه دې کوټې نه لرې تښتم
زه نور
په خپلو رخصتيو کې صحرا ته ځمه ! !

ازادي

زمونږه غرونه توپان (۱) نه پېژني
زمونږ ه غره ته چې ښامار(۲) راشي
نو تور کانې شي
زمونږ شملې
زمونږ ګامونه
په وحشي سيليو(۳) نه کږېږي
ما او دې غره ته
پورې سيند

هغې کوچۍ
دغې شپېلۍ
پېړۍ پېړۍ
دغیرتونو ترانې ویلي دي
موږه ټول عمر
ددې لوړو غرو ګټونو ته
په وړې نس
دعشق او ازادۍ مستې ټپې کړې دي
دا غرونه نه ایلیږي
دا غرونه نه نړیږي
توپانه لاره کړوه
زموږه غرونه توپان نه پېژني !!!!!

ټیلیفون

ډېره موده وروسته دې
غږ په ټیلیفون کې اورم
تا خو ویل:
زه مینه ناک څښتن،
له مینې جوړه کړې یمه
تا به ویل:
زما زړګی،
د مینې کور دی
د نفرت شپه په کې نه ټېرېږي

نو ګرانې !
دا یوه پوښتنه کوم
دا دومره وخت تېر شو ،
نه لیک
نه ټیلیفون
نه دې ایمیل رالېږه
زه خو حیران یم
چې ستا زړه کې
دا لوی غرد کرکې څنګه ځای شو..؟؟

کلی

څه موده مخکې نه جنګ و، نه جګړه وه
دا مو کلی دا مو کور دا مو دېره وه
شنه طوطیان وو ګرځېدو په چنارونو
هسکو هسکو شنو درو کې به مو شپه وه

په دې پورې غره به ټوله ورځ باران و
نخښدل به یې لمنو کې ګلونه
دسین منځ کې سپینې زانې ګرځېدلې
اوربدل نه پرې له پاسه سره اورونه

هره ورځ به راپرېوتې ښاپېرۍ وې
د چینې غاړه به ټوله رنګینه وه
چا خوړل د چنار څانګو کې ټالونه
چا به لاندې جوړه کړې ننداره وه

لږ څه وړاندې شنډه ونه پخوانۍ وه
په کې ځوړندې وې ځالې د مرغیو
خو تړې لاندې دبابا ټوخی ژوندی و
چا یې نوم اخیستی نه شو د بچیو

هغه پورې نړېدلی زیارت وینې
اوس یې نه ښکاري ګنبدو کې کوترې
انسانان وو خو بیا ستوري د اسمان شول
هره شپه به پر دوی شمعې بلېدلی

ددې کلي که خانان که ملنګان و
یو تر بله د زاړه چلم یاران و
په یو ډنګ د نغارې به سره غوندې شول
که به غږ د خوشالۍ که د خپګان و

دملا او د سپينږيري پرې امين و
فيصله که د جومات که د حجرې وه
دننګ کار کې به يې وينې جوشولې
که ټپه د لوپټې که د شملې وه

ددې کلي که ملا و او که رند و
ژوند د سولې، سوکالۍ يې لوی ارمان و
تصور د بېلتانه چا سره نه و
ټول سکه بچي د يو افغانستان و

دا اوس هم هماغه کلی هاغه قام دی
زوړ ملا د همغه ممبر امام دی
هره ورځ وينه په وينو مينځل کېږي
رڼا ورځ يې په خپل ځان باندې مانبام دی

د نفرت زړی هر زړه کې کرل کېږي
په هر سر پردي فکرونه تپل کېږي
خنجرونه پټ لاسونو کې ځلېږي
که څوک سوچ کړي دیووالي وژل کېږي

هغه څوک چې د الوت لري وزرونه
هغه الوزي او پرېزدي شاته غرونه
هغه نور چې ځواک یې نه شته او خواران دي
په یوه خیټه ډوډۍ جنګ ته روان دي

د چینجو په شان په خپل منځ کې خوړل کړي
شعارونه یې دي خپل خو کار د بل کړي
مشران یې تول دخپل بادار په امر
هم ګوابل کړي، هم ترړ کړي هم وژل کړي

باران

څه ښه د باران څاڅکي شي پيدا په ترنم
ژوندي په ترنم شي، ورکړي سا په ترنم

نښترو ته د غرونو اسماني سندرې وايي
زمونږ درو کې ګرځي تل هوا په ترنم

ته شرنګ د شنو بنګړوکړه، زه به خرپ د سپېنې تورې
ګټو به که خدای کاندي هر غزا په ترنم

زمونږ د چم د نجونو له پخوا نه دا عادت دی
ښېرې په ترنم کوي، دعا په ترنم

پیغام دې سندریز کړه چې فکرونه ورته ګډ شي
له تورو تیارو وباسه دنیا په ترنم

شمسزیه د جانان له زورور سوګنده تپر شوم
توبې مې واړه ماتې کړې بېګا په ترنم

سپرلی

څو ورځې سپرلی شي ببرته بیا هوا بدله شي
شپې اوږدې اوږدې شي ددنیا فضا بدله شي

یاره ستا دا زړه خو لا تر اوسه هم په باد رپي
لږ وخت کې دې څو ځلي ژړا خندا بدله شي

سیوری د ګناه دې د څېرې رڼایي تته کړي
ته چې دروغ وایې ستا د مخ رڼا بدله شي

خدایزده دا به ولې! نوم د غله خاین چې اخلمه
بس د ځینو خلکو د څېرو ځلا بدله شي

اوښکې

ستا په سترګو کې دي اوښکې زما زړه کې زلزله ده
يــوه وېــره درپســې ده يــوه وېــره راســره ده

ستا ترسترګو خو زه راغلم اوس مې زړه پورې ته بوځه
لـويـه لاره مـا وهـلـې، پـاتـې لـنـډه فـاصـلـه ده

تـه خو لـمر يې تـا د تـورو تـيـارو درد لـيـدلی نـه دی
لږمانښام نه وروسته راشه چې دا شپه څومره ترخه ده

بس کړه بل ځای کې بيا وايه دا غزل د ژوند او مينې
په دې ښار کې امن نه شته ددې ښار برخه سپېره ده

همزولي

ما څه ويلي تا منلي وو را ياد شول راته
والله له ياده مې وتلي وو را ياد شول راته

دمحبت سزا يې نيم عمر بېلتون راکړله
يوازې ويښې شپې ليدلي وو رايـاد شول راته

سپورمۍ له ما سره د درد زړه رشته وويسته
ستورو له ما سره ژړلي وو را ياد شول راته

يو غږمې واورېدو ناڅاپه مې څه زړه کې تېر شول
کټ مټ يو څه مې اوريدلي وو رايـاد شول راته

شمسزيه زه يمه او زه يم، بيا هم زه يم ښار کې
څه ښه همزولي مې د کلي وو رايـاد شول راته

مرګ

دا هم ډېره سخته وه چې زه له تانه لاړمه
سا دې د وجود وم خو اسانه لاړمه

ستا په بېلتانه کې مې مرګ سترګو ته راغلی و
هر ساعت به ما ویل چې اوس له ځانه لاړمه

خوښ یم چې د چا د ارمانونو قاتل نه یمه
دا به مې لوی ویاړ وي که له دې دنیا نه لاړمه

زه لکه غریبه اوښکه هېچا را ونه کتل
څاڅکی، څاڅکی، څاڅکی تر زخمي ګرېوانه لاړمه

تا راته پټ پټ کتل ما سترګې اړوی نه شوې
بله چاره نه وه اخر زه حیا نه لاړمه

یارانه

چا چې ساتلم د ملګرو له پرې نه لرې
هغه اوس ځان ساتي زما له یارانې نه لرې

مورِ لېونو سره که مینه کوې شرط یې دادی
زړګی به ساتې په منګول کې له سینې نه لرې

اوس داسې وخت دی څوک د چا د زړه درد نه خپلوي
رڼا یې خوښه وي ځان ساتي له ډېوې نه لرې

خیر دی ما ښکار کړه خو ذلیله مرګ مې نه خوښېږي
د دام کړی دې کړه ځوړنده له دانې نه لرې

Download from:aghalibrary.cm

مننه او کور ودانی

له ښاغلي صدیق کاوون توپاني څخه د زړه له کومې مننه کوم چې زما د ژوند پر پاڼو یې هم خپل نظر ولیکلو او هم یې د چاپ د لګښت په ورکولو سره ددغو پاڼو ټولګه تر تاسې در ورسوله، کور یې ودان خدای (ج) دې ورته اوږد عمر ورکړي.

په درنښت

شمسزی